RÉPUBLIQUE FRANÇAISE
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*

Santé publique France



# د مینینجایت او د وینې زهري کېدو (سپټیسېمیا) ناروغۍ ولې ځان واکسین کړو؟ ۵ مهمې دلیلونه

**د ۱۱ څخه تر ۱۴ کلن ماشومانو او ځوانان لپاره واکسین**

د مېنينګوکوکس او په ځانګړي ډول د w او y ډولونو بکتريا له امله د خطرناکو ناروغيو (لکه مېنينجايت او سپټيسېميا يا وينې زهري کېدو) پېښې له ۲۰۲۳ کال راهيسې ډېرې شوې دي.
د دغو ناروغيو د جدي خطر له امله، سپارښتنه کېږي چې ټول ۱۱ تر ۱۴ کلن ځوانان بايد واکسين شي.

## د مېنينګوکوس له امله پېچلې ناروغي څه ته وايي؟

- دا يو ډول سخته ناروغي دي لکه د دماغ پوښونو التهاب (مېنينجايت) يا د وينې زهري کېدل (سپټيسېميا) په توګه وي او کولای شي چې د مرګ يا دايمي معلوليت (لکه کوڼتيا، ذهني وروسته پاتې والی، يا د لاس يا پښې پرې کول) سبب ګرځي.
- دا ناروغي د يوه مکروبي بکتريا له امله رامنځته کېږي چې "مېنينګوکوکس" نومېږي، او دا بکتريا پنځه ډولونه لري : A,B,C,W او Y. په فرانسه کې تر ټولو زيات خپاره ډولونه يې B، W او Y دي.
- دغه بکتريا اکثره د خلکو په ستوني يا پوزه کې پرته له ناروغۍ شتون لري، خو کله ناکله د نږدې، اوږدمهاله يا تکراري تماس نور سره نورو ته انتقالېږي.
- سره د دې چې وړوکي ماشومان ته واکسين اړ دي، ځوانان او نوي بالغ کسان هم ډېر له دې ناروغی سره مخ کېږي.
- د مېنينګوکوکس A، C، W، او Y ډولونو پر وړاندې اوس خوندي اواغېزناک واکسينونه شتون لري او خوندي دي.

په فرانسه کې هر کال شاوخوا ۵۰۰ تر ۶۰۰ کسان د مېنينګوکوکس له امله د خطرناکو ناروغيو ښکار کېږي.

## د واکسین د چا لپاره دي؟

دA ، C، W، Yمینینګوکوکس پر ضد واکسین د ۱۱ تر ۱۴ کلونو ځوانانو لپاره سپارښتنه کیږي، پرته له دي چي مخکي واکسین شوي وي که نه. همداراز، که چاته د دي فرصت نه وي برابر شوی، نو د ۱۴ تر ۲۴ کلونو پورې بیا هم کولای شي واکسین واخلي.

یوه ستنه (واکسین) د ۵ تر ۱۰ کلونو پورې محافظت ورکوي. دا واکسین کولای شي همهاله د ماشومانو له نورو واکسینونو سره ورکړل شي، لکه د تیتانوس، شیرې، فلج، او د انساني پاپیلوما ویروس (HPV) پر ضد واکسین.

## کوم واکسینونه موجود دي؟

د نوی ځوانانو لپاره درې واکسینونه کارول کېدای شي:
Nimenrix®, Menquadfi® et Menveo®

## جانبي عوارض يي څه دي؟

- ممکن د ستنې ځای کې لږ درد وکړي او یا سوروالی یا پړسوب رامنځته شي. ځینې کسان کېدای شي لږ تبه، بې حوصله ګي یا سردرد احساس کړي.
- لکه نورو واکسیونونو غوندې دا نښې نښانې لندمهاله او بې خطره وي.

## د واکسین بیه څومره ده؟

دA ، C، W او Y مینینګوکوکس پر ضد واکسینونه د روغتیا بیمې (AssuranceMaladie) لخوا ۶۵٪ پوښل کیږي.پاتې برخه د تکمیلي بیمې (mutuelle) لخوا ورکول کیږي.

هغه کسان چې CSS یا AME او یا هم ۱۰۰ فیصده بیمه ولرې ، دا واکسین په وړیا توګه ترسره کیږي.

## چیرته دا واکسین ترسره کولاې شئ؟

- په متوسطه ښوونځي کې
- د کورني (فامیلي) ډاکتر، د ماشومانو ډاکتر، قابلې، نرسانو، درملتون یا د واکسین کولو مرکز کې

له ۲۰۲۵ ښوونیز کال څخه دA ، C، W، Y مینینګوکوکس پر ضد واکسین له HPV واکسین سره یو ځای به په وړیا ډول په ښوونځي کې ورکول کیږي.

## اغېزناک واکسینونه

هغه هېوادونه چې د A، C، W، Y مېنینګوکوکس پر ضد واکسینونه کاروي، په ځینو کې ښودولي دي چې دا واکسینونه ډېر اغېزناک دي.

## اړین واکسینونه

دغه واکسینونه ځوانان د مېنینجایت او سپټیسېمیا له ناروغیو څخه ژغوري، او د هغو خطرناکو عواقبو مخه نیسي چې دا ناروغۍ یې کولای شي ولري.

واکسین نه یوازې هغه ځوان خوندي کوي چې واکسین اخلي، بلکې د کورنۍ او ټولنې نور غړي هم له انتقال څخه ساتي.

## ساده واکسینونه

یوه ستنه د ماشومتوب څخه تر ځوانۍ پورې د خوندیتوب لپاره کافي دی. دا واکسینونه له نورو واکسینونو سره یو ځای هم ترسره کېدای شي.

## بې خطره واکسینونه

د عکس‌العمل پېښې او جانبي عوارض یې ډېرې لږې وي او خطرناک نه وي.

## وړیا یا ارزانه واکسینونه

د روغتیا بیمه د دا واکسین ۶۵٪ پیسې ورکوي، او پاتې برخه تکمیلي بیمه ورکوي. په ځینو روغتیایي مرکزونو او ښوونځیو کې واکسین په بشپړ ډول په وړیا توګه ترسره کېږي

**پوښتنه لرئ؟**
**سلا ته اړتیا لرئ؟**
**له یو روغتیایي کارکوونکي سره مشوره وکړئ.**

VACCINATION
INFO SERVICE.FR
Le site de référence qui répond à vos questions

DT07-505-25DE - État des connaissances : Juin 2025 – © GettyImages – AUSTRALIE - R.C.S. Paris B 378 899 363.